# د جنډر پر بنسټ تاوتریخوالی

د جنډر پر بنسټ تاوتریخوالی هغه تاوتریخوالی دی چی یو کس د خپل جنسیت له وجهي ورسره مخ کیږي. دا د ژوند ، آزادئ ، امنیت ، وقار ، د ښځو او نارینه وو ترمینځ مساواتو ، عدم تبعیض، فزیکي او رواني بشپړتیا ښکاره سرغړونه ده.




د بشری حقونو د څیړني او دفاع ټله

ادرس: ۱۹۲نمبر کور، دریمه کوڅه، دیارلسم سرک، وزیر اکبر خان، کابل افغانستان.

د اړیکی شمیري : ۰۷۸۵۲۱۰۱۲۱

۰۷۳۰۵۴۳۲۳۰

ایمیل: info@hrrac.af

ویبسایت: www.hrrac.af



Activity supported by the Canada Fund for Local Initiatives

Activité réalisée avec l'appui du Fonds canadien d'initiatives locales

Canada

HRRAC

د بشری حقونو د څیړنی او دفاع ټله


## د جنډر او جنسیت تر مینځ توپیر

جنډر د اساساتو او مقرراتو یوه ټولګه ده چې د ټولني د غړو لخوا رامینځته شوي چې د ټولنې د غړو (نارینه او ښځینه) دندو ، مسؤلیتونو او نقشونو ټاکنه کوي.

دا د فرهنګي پلوه د نارینه او ښځینه منل شوی چلند تعریف کوي لکه د دوی مسؤلیتونه، ګټې، زیانونه، فرصتونه، محدودیتونه، په ټولنه کې د دوي نقش، حیثیت او ځواک.

جنسیت بیا د بیولوژیکي او فزیکي پلوه د سړیو او ښځو تر مینځ توپیر ټاکي. د جنسیت ځانګړتیاوي په مختلفو ټولنو کې ورته دی، مګر د جنډر ځانګړتیاوې بیا د فرهنګ سره توپیر پیدا کوي.

| جنډر | جنسیت |
| --- | --- |
| د ټولنیزو عواملو لکه تاریخ، کلتور، دود، ټولنیز نورمونه، او مذهب لخوا ټاکل کیږي. | په بیولوژیکي ډول ټاکل کیږي. د ښځینه او نارینه وو ترمینځ فزیکي/بیولوژیکي توپیرونه یي ټاکي. |
| دا څو اړخیزه دی، د جنډر ځانګړتیاوې د فرهنګ سره توپیر پیدا کوې. | دا د ټولو انسانانو لپاره یو قسم دی، او د جغرافیایی، اقلیمی بدلون، یا مذهب سره تغیر نه کوي. |
| دا د وخت په تیریدو سره د بدلون امکان لري. | د وخت په تیریدو سره بدلون نه مومي |

د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی هغه تاوتریخوالی دی چې د جنس یا جنسیت پر بنسټ د یو شخص پروړاندې کیږي. پدې کې ټولي هغه کړني چې شخص ته فزیکي، رواني، یا جنسي زیان او تکلیف رسوي، او ده دی ورته ټولي هغه کړني لکه ګواښل، او د خپلواکۍ او د معیشت د زرایعو نه محروموول شاملې دي.
پداسې حال کې چې میرمنې ، سړي ، هلکان او انجونې د دې قرباني کیدی شي د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی ، ښځې او انجونې اصلي قربانیان دي.

**د تشدد ډولونه**

**فزیکي**: فزیکی تشدد خورا ډیر لیدل کیږي، د مثال په توګه ټپي کول، وهل ټکول او داسې نور

**رواني:** په لفظي او غیر لفظي توګه سپکاوی کول، او داسی نور.

**جنسي:** پرته له رضایته او یا په فشار جنسي اړیکې ته اړ کول.

**ټولنیز:** د قضایی، کلتوری، اجتماعی او ټولنیز ژوند نه لرې ساتل.

**اقتصادي**: د لازمو توکو یا د اقتصادي موقوعو څخه محروموول.

**کورنی:** کورنۍ تاوتریخوالي چې مرتکب او د هغې قرباني د کورنۍ غړي وي.

د بشری **حقونو** د څیړني او **دفاع** ډله

ادرس: ۱۹۲نمبر کور، دریمه کوڅه، دیارلسم سرک، وزیر اکبر خان، کابل افغانستان.

د اړیکی شمیري : ۰۷۸۵۲۱۰۱۲۱

۰۷۳۰۵۴۳۲۳۰

ایمیل: info@hrrac.af

ویبسایت: www.hrrac.af

## د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالی ډولونه






## د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالی عمده لاملونه او فاکتورونه

**زیان رسونکي رسمونه او روجوانه:** د جنډر په اړه دقیانوسی نظریی، زیاتره وخت د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي توجیه لپاره کارول کیږي. کلتوري رواجونه اکثره وخت داسی اشاره ورکوي چې نارینه بریدګر، کنټرولونکي، اوبرتره دی. همدا رنګه میرمنې مطیعه، عاجزې او په سړو انحصار لري. دا نورمونه د مطلق ناوړه ګټه اخیستنې کلتور ته وده ورکوي.

**لوږه/فقر:** لکه څنګه چې د میرمنو څواک کول کولی شي د لوږې له مینځه وړو کې مرسته وکړي. د خواړو کمبود د جنډر پر بنسټ تاوتریخوالي لامل هم کیږي. د خواړو کمبود د ښځو او انجونو د کم عمرۍ او جبري ودونو سبب کیږي ځکه چې کورنۍ یی د ولور تادیه غواړي او د خوراکي توکو مصرف کمولو هڅې کوي. فقر کورنۍ تشنج ډیروي، کوم چې د تاوتریخوالي لامل کیداي شي.

**جګړه او شخړه.**جبري ودونه یوازې د فقر پایله نه ده؛ په هغه ځایونو کي چی جګره وي، هلته هم د ماشومانو د ودونو کچه لوړه وي. د شخړو په حالاتو کې، مور او پلار ګمان کوي چی د واده له لارې به د دوی لو د خپلو لوڼو د خوندیتوب او مالي امنیت ساتنه وکړي، او د کورنۍ بار به یي یو څه کم شي.